**بسم الله الرحمن الرحيم**

## د کړکیچونو سره په چال چلند کې ملي یو والي

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی هغه پخپل کتاب کې فرمایلي: **« وَتَعاوَنُوا عَلَی البِرِّ وَالتَّقْوَی »ژباړه:« کوم کارونه چې د نېکۍ او خدای پالني دي، په هغو کښې له ټولو سره مرسته وکړئ؛»**، او زه ګواهي ورکوم چې نشته لایق د عبادت مګر یو الله دی چې هیڅ شریک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی، درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قیامت تر ورځې پوري په نیکۍ سره د هغه تابعداري کوي.

و بعد:

پرمختللي ټولني هغه ټولني دي یو له بل سره همکاري او یو د بل پالونکې وي په ځانګړي توګه د کړکیچونو په وخت کې زمونږ نبي محمد صلی الله علیه وسلم دغه ټولنو ته د غورو ټولنو نوم ورکړي دي لکه چې فرمایلي دي: د مومنانو مثال په مهرباني صله رحمي او محبت کې د یو بدن په څیر دی که د بدن یو غړي دردیږي نو ټول بدن ورسره په عذاب وي همدارنګه نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي یو مومن د بل مومن لپاره د یو بنیاد مثال لري چې یو له بل سره تړلي وسي او بیا یی دو ګوتي سره یو ځاي کړي.

په کړکیچونوباندي ځان پوهول ددی غوښتنه کوي چې ملي یووالي باید پدغه برخه کې رامنځته شي او هغه پداسی ډول سره چې باید دوکې احتکار اود استغلال څخه ځان وساتي زمونږ دین ددغو کړنو څخه منع کړی ده او پدي باندي ټینګار کړي دي چې باید په کارونو کې چل او فریب ونشي او په قرانکریم کې لومړنۍ هغه آیتونه چې په مدینه منوره کې نازل شوي دي هغه دادي لکه چې الله جل جلاله فرمایی:« وَيْلٌ لِلْمُطَفِّفِينَ * الَّذِينَ إِذَا اكْتَالُوا عَلَى النَّاسِ يَسْتَوْفُونَ * وَإِذَا كَالُوهُمْ أَوْ وَزَنُوهُمْ يُخْسِرُونَ * أَلَا يَظُنُّ أُولَئِكَ أَنَّهُمْ مَبْعُوثُونَ * لِيَوْمٍ عَظِيمٍ * يَوْمَ يَقُومُ النَّاسُ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ» ژباړه:« په تله او ترازو کي) د کم ورکونکو لپاره تباهي ده:د هغو حال داسي دی چې کله له خلکو څخه په پیمانه څه اخلي، نو پوره پوره یې اخلي؛او کله چې هغو ته په پیمانه یا تله څه ورکوي، نو کم یې ورکوي؛ایا دا خلك باور نه کوي چې دوی را پاڅول کېدونکي دي؛په یوه لویه ورځ؛هغه ورځ چې کله ټول خلك د عالمیانو د پروردګار په حضور کښې ودریږي.» همدارنګه د شعیب علیه وسلام په ژبه باندي الله جل جلاله فرمایلي دي:« وَيَا قَوْمِ أَوْفُوا الْمِكْيَالَ وَالْمِيزَانَ بِالْقِسْطِ وَلاَ تَبْخَسُوا النَّاسَ أَشْيَاءَهُمْ وَلاَ تَعْثَوْا فِي الأَرْضِ مُفْسِدِينَ» ژباړه:« او اې قومه له عدالت سره سم تول او پیمانه کوئ، او خلکو ته د هغو په شیانو کښي تاوان مه ور اړوئ او په ځمکه کښي فساد مه خوروئ.» همدارنګه نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي:څوک چې دوکه کوي هغه زمونږ څخه ندي.

همدارنګه شریعت د ټولو هغو کارونو څخه منع کړي ده چې په هغه کې احتکار او استغلال راځي ځکه چې پدي کې د خلکو په روزي باندي لوبي کول دي او د هغوي د ژوند ارزښتونو

سره لوبي کول دي ترڅو په غیر قانوني لارو باندي پیسی ترلاسه کړي او هغه د خلکو په مشقت او سختي سره ترلاسه کړی وي الله جل جلاله فرمایی:« يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لاَ تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ إِلاَّ أَنْ تَكُونَ تِجَارَةً عَنْ تَرَاضٍ مِنْكُمْ وَلاَ تَقْتُلُوا أَنْفُسَكُمْ إِنَّ اللَّهَ كَانَ بِكُمْ رَحِيمًا» ژباړه:« اې مؤمنانو! په خپلو منځو کښي یو د بل مالونه په ناروا توګه مه خورئ، مګر (خورئ یې) که راکړه ورکړه د دواړو خواو په خوښی سره (په روا توګه) وي، او خپل ځانونه مه وژنئ. باور ولرئ چې الله پر تاسي مهربان دی.» همدارنګه نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: د یو مسلمان په بل مسلمان باندي وينه مال او همدارنګه آبرو حرامه ده همدارنګه نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې احتکار نکوي مګر هغه څوک چې په غلطه لاره باندي روان وي نو هغه څوک چې احتکار کوي هغه د هیڅ هیواد پوري تړلي نه وي ځکه چې هغه خپل ځان د هر ديني او انساني او هیوادني میني څخه لوړ ګڼي نو د دی لامل کیږي چې د الله جل جلاله او د خلکو غوصه راوپاروي.

که چیرته هغه څوک چې احتکار کوي پدي باندي پوه شي چې هغه مال چې د احتکار او استغلال له لاری لاسته راوړي هغه به د قیامت په ورځ باندي به په هغه باندي بوج وي نو ددغه ظلم څخه به لاس واخلي الله جل جلاله فرمایی: « وَمَنْ يَغْلُلْ يَأْتِ بِمَا غَلَّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ» همدارنګه نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې احتکار کوونکي باندي به لعنت ویل کیږي او د دي ترڅنګ په نورو احادیثو کې هم په همدي باندي ټینګار کړی دی.

اما هغه ملي تاجران چې په ریښتیا توګه سره دوکه نکوي او همدارنګه فریب او خیانت نکوي بلکې هیوادني مینه دیته هڅوي چې د کړکیچونو په وخت کې د خلکو باندي سختي رانه ولي او خپله ګټه لږه کمه کړي نو بی له شکه دا د هغه خه کسانو په جملي کې راځي چې پدي باندي ډیر زیات ثواب ورکول کیږي او الله جل جلاله د نبي کریم صل الله علیه وسلم په ژبه باندي وعده کړی ده چې ریښتیني سوداګرو ته به لوي اجر ورکوي پیغمبر صلی اله علیه وسلم فرمایلي دي هغه تاجر چې ریښتیني او امانتداره وي هغه به د نبیانو ریښتینو خلکو او د شهیدانو سره به یو ځاي راپاسیږي او همدارنګه ددی ترڅنګ په نورو احادیثو پیغمبر صلی الله علیه وسلم به همدي باندي ټینګار کړي دي.

*****

ټول ثنا او صفت د هغه الله جل جلاله لپاره دی چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی، او زه ګواهي ورکوم چې نشته لایق د عبادت مګر یو الله دی چې هیڅ شریک نلری، او زه ګواهي ورکوم چې زمونږ سردار او نبي محمد صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی درود سلام او برکت دي وي په هغه او د هغه په آل او په ملګرو او په هغه چا باندي چې د قیامت تر ورځي پوري په نیکی سره د هغه تابعداري کوي.

د کړکیچونو په وخت کې مونږ ته لازمه ده چې نورو ورونو ته غوراوي ورکړو او یو له بل سره صله رحمي وکړو نه دا چې سختي او انانیت ترسره کړو لکه چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم پدي هکله بیلابیل حدیثونه راوړي دي اوټولو کې ټینګار یی په همدي کړي چې باید

نورو باید پخپل ځان باندي غوراوي ورکړي او یو له بل سره صله رحمي او همکاري وکړي لکه چې الله جل جلاله په قرآنکریم کې فرمایی:« وَيُؤْثِرُونَ عَلَى أَنفُسِهِمْ وَلَوْ كَانَ بِهِمْ خَصَاصَةٌ وَمَن يُوقَ شُحَّ نَفْسِهِ فَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُون» ژباړه:« او پر خپل ځان باندي نورو ته ترجیح ورکوي که څه هم پخپله محتاج وي. حقیقت دا دی، کوم خلك چي د خپل زړه له تنګی څخه وژغورل شول، همغوی بري موندونکي دي.» همدارنګه نبی کریم صلی الله علیه وسلم د اشعریانوپه هکله هم حدیث کې فرمایلي دي چې هغوي غوره خلک دی ځکه چې که چیرته د هغوي خواړه کم شي نو خپل خواړه راجمع کوي په یو څادر کې اچوی او په برابره سره یو بل سره تقسیموي هغوي له ما څخه دي او زه له هغوي څخه یم.

بی له شکه دغه همدردي چې هیوادوال یو له بل سره کوي د ټولنیزو او بشري اړیکو د ټینګښت لپآره خورا مهم دي او همدارنګه پدی ترڅ کې الفت مینه محبت د ټولني د وګړو ترمنځ رامنځته کیږي نو د همدي لپآره اسلامي شریعت پدي باندي راغلي دي چې ددي هڅونه کوي لکه چې الله جل جلاله فرمایي:« وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالعُدْوَانِ» ژباړه:« کوم کارونه چې د نیکی او خدای پالني دي، په هغو کښي له ټولو سره مرسته وکړئ؛ او کوم کارونه چي د ګناه او تیري وي، په هغو کښي د هیچا ملاتړ مه کوئ.» همدارنګه دغه همدردي او مرسته یو له بل سره د خیر په ټولو کارونو کې ترسره کیدلي شي په ځانګړي توګه خلکو ته خواړه ورکول د بیوزلو سره مرسته کول لکه چې الله جل جلاله د پرهیزګارانو او نیکانو په هکله فرمایلی دي: «وَيُطْعِمُونَ الطَّعَامَ عَلَى حُبِّهِ مِسْكِينًا وَيَتِيمًا وَأَسِيرًا* إِنَّمَا نُطْعِمُكُمْ لِوَجْهِ اللَّهِ لاَ نُرِيدُ مِنكُمْ جَزاءً وَلاَ شُكُورًا * إِنَّا نَخَافُ مِن رَّبِّنَا يَوْمًا عَبُوسًا قَمْطَرِيرًا * فَوَقَاهُمُ اللَّهُ شَرَّ ذَلِكَ الْيَومِ وَلَقَّاهُمْ نَضْرَةً وَسُرُورًا* وَجَزَاهُمْ بِمَا صَبَرُواْ جَنَّةً وَحَرِيرًا» ژباړه:« او د الله په مینه کښي مسکین، یتیم او بندي ته خواړه ورکوي(او هغو ته وایي چې) موږ تاسي ته یوازې د الله په خاطر خواړه درکوو. موږ ستاسي څخه نه څه بدله غواړو، نه مننه؛زموږ سره خو د خپل رب څخه د هغې ورځې د عذاب وېره ده چې د سخت کړاو ډېره اوږده ورځ به وي.نو الله تعالیٰ به دوی د هغې ورځې له شر څخه وژغوري او دوی ته به ترتازګي او خوشحالي ورکړي.او د هغو د صبر په بدل کښي به جنت او وربښمین کالي ورکړي.» همدارنګه الله جل جلاله د میمنه د اصحابو په وصف کې فرمایي:« أَوْ إِطْعَامٌ فِي يَوْمٍ ذِي مَسْغَبَة* يَتِيمًا ذَا مَقْرَبَةٍ* أَوْ مِسْكِينًا ذَا مَتْرَبَةٍ » ژباړه:« یا د لوږي په ورځ خواړه ورکول؛کوم خپلوان یتیم،یا په خاورو ناست مسکین ته. » همدارنګه نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې خلکو ته خواړه ورکړي صله رحمي وکړي او د شپي لمونځونه کوي پداسی وخت کې چې خلک ویده یی تاسو به په سلامتیا سره جنت ته داخلیږي همدارنه په بل حدیث کې فرمایلي دي:په تاسی کې غوره هغه څوک دي چې خلکو ته خواړه ورکوي.

**الله د زمونږ د ګران هیواد مصر او د نړی د ټولو هیوادونو ساتنه وکړي**